عبدالقیوم مهمند ۲۰۲۰/۰۶/۰۲

سباوون

(خپلواکه ټولنیزه، کلتوري او سیاسي خپرونه)

سباوون یوه خپلواکه ټولنیزه، کلتوري او سیاسي خپرونه ده چې د لومړي ځل لپاره د مجلې په بڼه کې د ۱۹۹۳ زیږدیز کال د اکتوبر په ۲۱ نیټه د کالیفورنیا ایالت د فونټن ویلي په ښار کې لهٔ چاپ څخه راووتله او په پښتو او انګریزي ژبو یې خپرونې پیل کړې.
د سباوون مجلې موخه د لومړۍ ورځې څخه د هیواد د ملي مسایلو په هکله ګټور معلومات خپرول، د هیواد د دښمنانو لهٔ مخونو څخه نقابونه لیرې کول، یوې ملي روحیې ته وده ورکول، او د پښتو ژبې، کلتور او پښتونوالي په هکله علمي او تحقیقي لیکنې خپرول وو. سباوون مجلې د خپلې چاپي بڼې په موده کې د افغانستان په ټولنیزو، کلتوري او سیاسي برخو کې بیلابیلې خپرونې وکړې او د هیواد ملي، تاریخي، ادبي او سیاسي څیړې یې یو پر بل پسې هیوادوالو ته وروپیژندلې. څه موده وروسته سباوون مجله د چاپي بڼې ترڅنګ د انټرنټ (internet) پرمخ هم راوځلیده.
سباوون مجله د خپل اوه کلن مطبوعاتي منزل په ترڅ کې د ډیرو کنډوکپرو څخه تیره شوه، د بیلابیلو تهدیدونو او مشکلاتو لهٔ پړاو څخه ووتله او رښتیني د هیواد او ولس په هکله ګټور او غوره معلومات یې هیوادوالو او نړیوالو ته وړاندې کړل. د اوو کلونو مطبوعاتي سفر څخه وروسته لهٔ بده مرغه د ځینو مالي ستونزو لهٔ کبله د سباوون مجله د کاغذ پرمخ د چاپ څخه بنده شوه، مګر سباوون خپل مطبوعاتي فعالیت د کمپیوټر د پاڼې (Internet) له لارې مخ په وړاندې بوت.
د سباوون د صحیح، ګټور او اغیزمن کار نتیجه وه چې د سپتمبر د یوولسمې د ناورین څخه وروسته د افغانستان په هکله د موثقو او بیطرفه معلوماتو د راغونډولو په خاطر د سباوون مجلې کمپیوټري پاڼه د نړۍ په بیلابیلو هیوادونو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کې په لومړیو میاشتو کې د یولک دیرش زرو (۱۳۰۰۰۰) لوستونکو لخوا لوستل کیده چې دا شمیره څه موده وروسته پنځو لکو (۵۰۰۰۰۰) ته ورسیده. همداراز د امریکا دولتي مقاماتو هم پۀ عین وخت کې فیصله کړې وه چې د سباوون کمپیوټري پاڼې ته مراجعه وکړي او دا پاڼه د امریکا د جمهورریس، مشرانو جرګې، ولسي جرګې او نورو دولتي منابعو ته د مؤخذ په توګه وروپیژني او د صحیح معلوماتو دپاره ترې ګټه واخلي، چې د سباوون مجلې او کمپیوټري پاڼې مسئولینوته دکانګرس کتابتون (Library of Congress) د دې فیصلې خبر د بریښنالیک (email) د لارې ورکړی و.

د سپتمبر د یوولسمې نیټې څخه وروسته اکثره هغه مطبوعات او کسان چې د امریکا د بهرنې سیاست او نړیوال دریځ په هکله یې انتقادي دریځ درلود غلې کښیناستل او پۀ افغانستان کې د امریکا د سیاست پۀ هکله پټه خوله پاتې شول، مګر د سباوون مجلې مسوولینو د هیواد او ولس په مقابل کې خپل مسوولیت له یاد نه ونۀ ویست او پدې هکله یې هراړخیزه خپرونې وکړې او پۀ افغانستان د یرغل او پۀ افغانستان کې یې روان غیرعادلانه او نااندوله سیاست ته یې د انتقاد ګوته ونیوله. د افغانانو او نړیوالو پاملرنه یې هغو کورنیو، سیمه ایزو او نړیوالو لاسوهنو او مشکلاتو ته راوګرځولـه چې دا هیواد د هغې له کبله د کلونو راهیسې پۀ اور کې سوزیده.

ملي اهدافو ته د رسیدو، افغانان او نړیوال د افغانستان د اوسني او راتلوکي سیاسي واقیعتونو پۀ هکله د روښانولو او د افغانانو د حقه حقوقو د لاسته راوړلو پۀ خاطر، موږ اوس هم د ژبې، ادب، کلتور، دین، د هیواد دبیا ودانولو، ټولنې ته د ودې ورکولو، د ملي حکومت جوړولو، د یو رښتیني او ګټور اساسي قانون په هکله د معلومات راټولولو، د یوې رښتیني نماینده جرګې راغونډیدلو د پروسې د څیړنې او د اراز نورو ملي او ولسي مسایلو پۀ هکله د هراړخیزه ګټورمعلوماتود راغونډلو هڅې جاري ساتو.

نن چې یو ځل بیا پۀ هیواد کې داسې حالات راغلي چې باید د افغانستان د رښتینو ملي مسایلو پۀ هکله ولس ته هراړخیزه معلومات وړاندې شي، پۀ هیواد کې سیاسي، ژبني او نظامي نااندولیو ته د هیوادوالو او نړیوالو پاملرنه راوګرځول شي، ولس د کورنې او نړیوال سیاسي میدان د لوبغاړو د لوبو نه خبرکړای شي، اړینه ده چې د فعالیت لمن پراخه شي. مونږ دښمنان ډیر لرو او دوستان لږ، خو ملي اهدافو ته د رسیدو، افغانان او نړیوال د افغانستان د اوسني او راتلوکي سیاسي واقیعتونو پۀ هکله د روښانولو او د افغانانو د حقه حقوقو د لاسته راوړلو پۀ خاطر به موږ خپلې هڅې جاري ساتو.

تاسې ټولو هیوادوالو اه بلنه درکوو چې موږ سره د Zoom لۀ لارې پۀ خپرونه کې برخه واخلئ او د سباوون د فیسبوک له لارې یې پۀ ژوندۍ بڼه وګورئ.

Abdul Qayum Mohmand, PhD
Independent Researcher and Consultant
Director of Research
Reliance Consulting and Research
Santa Ana, California

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ